لومړی جلد

# انګریزي ژبه څنګه زده کړو؟

## How to learn English Language?



لیکوال: احمدضیاء هادي

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتاب نوم: انګریزي څنګه زده کړو؟

لیکوال: احمدضیاء هادي

بیه: (     )

کال: ۱۴۰۲ – ۲۰۲۳

کمپوز او ډیزاین: احمدضیاء هادي

خپرندوی اداره: OPD Academy

خبرتیا!

د دې کتاب ټول حقوق له خپرندوی ادارې سره خوندي دي، د کتاب نشر کول په خپل نوم او یا هم چاپ کول عدلي او قانوني چلند لري.

د کتاب اصلي نسخه له لاندې آدرسونو څخه ترلاسه کولی شی:

https://t.me/opdacademy

+93 770620568

(c) ketabton.com: The Digital Library



# OPD Academy

د (او پي ډي آکاډمي) د هیواد ځوان نسل لپاره یوه معتبره او د غوره کورسونو، کتابونو، مطالبو او اسلامي نشراتو سرچینه ده.

تاسې کولی شی مونږ سره په وړیا ډول د کمپیوټر پروګرامونه، انګلیسي ژبه او د کانکور او ښوونځي ساینسي مضامین زده کړی.

زمونږ د کمپیوټر او انګلیسي ژبې درسونه په وړیا ډول د آنلاین تولګیو له لارې او یوټیوب چینل له لارې تاسې تعقیب کولی شی.

د (او پي ډي آکاډمی) تل هڅه کوي تر څو د هیواد ځوان نسل ته غوره فرصتونه او چوپرتیاوې وړاندې کړي.

همدا نن زمونږ یوټیوب چینل ته د لاندي پتې څخه سر ورښکاره کړئ او خپلې زده کړې پیل کړی.

YouTube: OPD Academy

(c) ketabton.com: The Digital Library



# توجه!

دا کتاب ۲ جلدونو کې نشر شوی، لومړی جلد یې تاسو ته د ټیلیګرام له چینل څخه نشر کوو، او دویم جلد یې یوازې د واټساپ له لارې درته لیږل کیږي.

+93 770620568

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دا کتاب چا لپاره دی؟

۱: هغه کسانو لپاره چې د انګلیسی ژبې ګرامر نشي زده کولی.

۲: هغه کسان چې د لغاتونه ذخیره یې ضعیفه ده او نوي لغات نشي حفظ کولی.

۳: هغه کسان چې د انګلیسی ژبې لوستل او لیکلو کې ستونزه لري.

۴: هغه کسان چې د انګلیسی ژبې خبرو کولو کې بند راځي او صحیح تکلم نشي کولی.



http://t.me/opdacademy

(c) ketabton.com: The Digital Library



# عمومي مطالبو لیست

| | |
|---|---|
| لومړی څپرکی | ګرامر څنګه زده کړو ؟ |
| دویم څپرکی | لغاتونه دا ډول زده کړئ |
| دریم څپرکی | نور خبرو کولو کې مه بند کیږئ |
| څلورم څپرکی | متن په دې ډول ولولهء |
| پنځم څپرکی | د لیکلو لپاره دا مهارتونه اړین دي |

نوټ: دا کتاب کې بنده خپله پوره خواري او زیار باسلی که چیرې تاسې هر دول املائي غلطي او یا هم معلوماتي غلطي ولیدله نو مونږ سره یې حتما له لاندې لارې شریکه کړئ.

واټساپ: ۰۷۷۰۶۲۰۵۶۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی څپرکی

## ګرامر څنګه زده کړو؟

Zia Hadi



http://t.me/opdacademy

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګرامر څه دی؟

ګرامر د ژبې جوړښت دی.

که غواړی چې خپلو خبرو باندې حاکم وی او موضوع مخاطب کس ته په آسانی سره ولیږدوی نو د هرې ژبې د ګرامر زده کړه اړینه خبره ده.

نو د هرې ژبې زده کولو لپاره د ګرامر زده کړه اړینه موضوع ده، خو دا موضوع د ډیرو زده کوونکو لپاره یوه ستونزمنه خبره ګرځیدلي ده او د ژبې زده کوونکی نشي کولی ګرامر په صحیح معنا زده کړي او اصلي مطلب ترلاسه کړي.



http://t.me/opdacademy

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خواشینی سره زمونږ هیواد کې هم د پوهې د کموالي او معیاري زده کړیز سیستم نشتون له کبله ګرامر په ډیرو زده کوونکو باندې په میخانیکي او تحمیلي ډول سره حفظ کیږي چې د هر ګرامر جوړښت او تعریف د زده کوونکي په ذهن کې تر یو څه وخت پورې وي خو بیا هم د زده کوونکي له ذهن څخه هیر شي.




نو د حل لار څه ده ؟



http://t.me/opdacademy

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځو اساسي موضوع ته، لاندي کومې طریقې چې د ګرامر زده کړې لپاره لیکل شوي دا په نړیواله توګه د استعمال وړ او خورا آسانې او نوي طریقې دي.

هر طریقه په ډېر دقت سره یوازې یوځل ولولئ او نور د ګرامر زده کړه ځان لپاره آسانه کړی تر څو هم مو وخت ضایع نشي او هم مو پیسې په کورسونو کې ضایع نشي.

## لومړی طریقه:

په ۱ طریقه کې د ګرامر صحیح لوستل دي.

مطلب دا چې؛ تاسو لومړی ګرامر صحیح ولولی له هغې وروسته کوم نوټ چې لیکل


http://t.me/opdacademy

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی هغه خلاصه کړئ او وروسته ټول مهم ټکي په نښه کړئ.

د بېلګې په ډول: تاسې د زمانو برخه کې د **اوس مهال زمانه** زده کوی نو تاسې باید لومړی ټول نوټ باندې عادي ډول سره مرور وکړئ له هغې وروسته نوټ خلاصه کړئ او کله مو چې نوټ خلاصه کړو دا باید جلا کتابچه کې چې د ګرامر خلاصې لپاره ځانګړي شوي وي ولیکئ او له هغې وروسته اړونده موضوع کې هر استعمال لپاره باید لږ تر لږ ۱۵ مثالونه ولیکئ تر څو د یوې اوږدې مودې لپاره دا موضوع ستاسو ذهن کې پاتې شي.

او دا لنډیز باندې په مداوم ډول سره تکرار کوئ.



http://t.me/opdacademy


(c) ketabton.com: The Digital Library



## دویمه طریقه:

د انګریزی ژبې ګرامر کې تاسې باید موضوعات په ترتیب سره زده کړی.

یعنې: هر کله چې تاسې خبرې کوی ستاسو د بند بند کیدو اصلي وجه د ګرامر نه پوهیدل دي. کوښښ وکړئ موضوعات د نړیوالو کتابونو مطابق زده کړی.




لکه په دې ډول چې: لومړی د کلام اجزاوې زده کړی او له هغې وروسته زمانې زده کړی تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو تاسې مخاطب هم وپيژنی او همدارنګه ضميرونه او فعلونه هم په صحيح ځای کې استعمال کړی، دا ځکه چې که مونږ د هرې زمانې جوړښت ته وګورو نو افعال پکې شامل دي نو دې لپاره تاسې بايد د کلام اجزاوې په سمه توګه زده کړی.

## دريمه طريقه:

تمرين وکړئ!

د تمرين څخه مطلب دا دی چې هره موضوع چې کورس کې او يا هم بل ځای کې زده کوی د هغې موضوع اړوند په نورو کتابونو کې هم پلټنه وکړی او اوس زمانه کې چې د ټکنالوژی زمانه ده کولی شی انټرنټ کې په زرګونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيلابيلو سرچينو څخه ګټه اخيستلی شی او خپلې پوهې ته نوره هم وده ورکړئ.

انټرنټ کې د ګرامر هره موضوع کولی شی هم په خلص يا لنډ ډول سره ترلاسه کړی او هم په پوره تفصيل سره، نو يوازې د کورس او ښوونځي په کتابونو او چپترو باندي ځانونه مه بوخت کوئ.

## څلورمه طريقه:

خپل کمزوري ټکي په نښه کړئ او د غلطيو اصلاحات پيل کړئ.

يعنې کله چې تاسې خبرې کوی او يا هم ليکل کوی نو هغه برخې چې ستاسو ګرامري غلطی پکې ډيرې دي هغه ځان سره نوټ کړئ او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتابونو او نوټونو څخه په مرستې موضوع حل کړئ او تمرين پرې وکړئ.

## پنځمه طريقه:

ګرامر ميخانيک کوی مه!

يعنې: ګرامر خط په خط مه حفظ کوئ، که ستاسې موخه د ګرامر زده کړه او د هغه استعمال په خبرو اترو کې وي نو يوازې هغه ټکو ته پاملرنه وکړئ چې ستاسو د خبرو اترو لار پرانيزي او که راتلونکي کې د نړيوالو آزموينو اراده لری نو يوازې مهمو برخو ته توجه وکړی او د اضافي حفظياتو څخه ډډه وکړئ.

تاسې بايد ګرامر پکار واچوئ، يعنې د ګرامر استعمال او د استعمال ځايونه معلوم کړی،



http://t.me/opdacademy

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چیرې داسې و نکړی ګرامر به تل تاسو لپاره یوه ګونګه او ستونزمنه موضوع وي.

پورته طریقې ټولې تجربه شوې او منل شوې تجربې دي.

هیله ده چې پورته طریقې تاسو سره د انګریزی ژبې د ګرامر په زده کړه مرسته وکړي او تاسو سره د ژبې زده کړې سفر کې غوره وسیله شي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



# دویم څپرکی

## لغاتونه دا ډول زده کړئ

Zia Hadi

(c) ketabton.com: The Digital Library



دويم څپرکي کې دا باندې بحث شوی چې مونږ څنګه کولی شو لغاتونه په آسان ډول سره زده کړو او خپلې دايمي حافظې ته انتقال کړو.

لاندې طريقې د لغاتونو حفظ کولو لپاره ډېرې ساده او غوره طريقې دي، کوښښ وکړئ چې هره طريقه په پوره دقت سره مطالعه کړئ.

## لومړی طريقه:

په عمومي ډول سره زمونږ هيواد کې دا رواج دی چې زده کوونکی بايد لغاتونه د چپټر يا کتاب څخه ولولي او حفظ يې کړي، چې دا طريقه خپل ذات کې ډېره ښه طريقه ده خو دې لپاره چې دا لاره موثره او آسانه تمامه شي نو دا به غوره وي چې تاسې بايد لومړي وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې لږ لږ لغاتونه خو په ښه کیفیت سره حفظ کړئ.

مطلب دا چې: کوښښ وکړئ هره ورځ ۷ څخه تر ۱۰ پورې لغاتونه حفظ کړئ او دا لغاتونه په ۲۴ ساعتونو کې درې دورو کې تکرار کړئ چې غوره وختونه یې (سهار ، ماسپیښن او د شپې خواب څخه مخکې) دي.

دا ځکه چې په دې ډول سره لغاتونه ستاسو دایمي حافظې ته انتقال کیږي او د حافظې یاددښت کې دا طریقه ډېره مرسته کوي.





http://t.me/opdacademy

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دویمه طریقه:

کوښښ وکړئ چې د لغاتونو مفهوم ترلاسه کړئ، دا ځکه چې کله چې تاسې غواړی انګریزی ژبه باندې خبرې وکړئ نو تاسې به بند بند کیږی نه او ستاسې خبرې به رواني وي او دې ترڅنګ تاسې به د ویاند د خبرو مطلب هم په آسان ډول سره ترلاسه کوئ.

## دریمه طریقه:

د لغاتونو د ښې زده کړې لپاره د لغاتونو معنا په ۲ پړاونو کې زده کړئ.

لومړی پړاو: د هر لغت معنا د ډیکشنری په واسطه ترلاسه کړئ او په خپله عامه ژبه کې یې په کتابچه کې ولیکئ، ترڅو د لغت معنا

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم زده کړئ او د لغت څخه یو ذهني تصویر هم ترلاسه کړی.

دویم پړاو: د انګریزی ژبې لغت بیرته په انګریزی ژبه باندې ترجمه کړئ او مطلب یې ځان سره ولیکئ.

دې موضوع ګټه دا ده چې؛ تاسې به یو وخت کې د لغت څو مترادفې معناوې ځان سره لری او بله خبره دا چې کله چې تاسې په انګریزی ژبه خبرې اترې کوی نو ستاسې خبرې اترې به جذابه وي او هم به مخاطبین نوي څه ترې زده کوي.

د بیلګې په ډول:

Nice = (Good, Polite)



http://t.me/opdacademy

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورته لغت لپاره دوه مترادفې يا يوشان معناوې بيرته په انګريزی ژبه کې ليکل شوي.

خو مونږ څنګه کولی شو چې د انګريزی ژبې د لغت مترادفه معنا پيدا کړو؟

راځو دا موضوع څلورمه طريقه کې د بحث لاندې نيسو.

## څلورمه طريقه:

اوس زمانه د ټکنالوژی او نوښتونو زمانه ده، تاسې کولی شی د انټرنټ په واسطه او يا هم د ډيکشينری په واسطه د يو لغت مترادفه معنا پيدا کړی.

دې ترڅنګ کوښښ وکړئ چې طريقه ځان باندې اجباري کړئ تر څو ستاسو ذهن ورسره



http://t.me/opdacademy

(c) ketabton.com: The Digital Library



عادت شي او خپل د ژبې مهارت ته کم وخت کې پرمختګ ورکړی.

## پنځمه طريقه:

تاسې یوازې د ښوونیز مرکز او یا هم د ښوونځي په ترتیب شویو کتابونو باندې بسنه مه کوئ، کوښښ وکړئ چې په نړیواله سطحه د انګریزی ژبې د زده کړې کتابونو برخه کې د (لغاتونو زده کړې) کتابونه پیدا کړی او نوي لغاتونه په ډیرو دلچسپو طریقو سره ترې زده کړی چې یوه هم د کیسې طریقه ده چې نویو کتابونو کې شتون لري تر څو هم موضوع ستاسو لپاره دلچسپه وي او هم نوي لغاتونه ترې زده کړی.

ښه بیلګه یې لاندې د کتابونو سریز یا لړۍ ده:



http://t.me/opdacademy

(c) ketabton.com: The Digital Library



# 4000 Essential Words - 6 Books

## شپږمه طریقه:

تاسې کولی شی د کتاب پلورنځیو څخه د انګریزی ژبې اخبار ترلاسه کړی، او وروسته له دې چې تاسو د انګریزی ژبې اخبار ترلاسه کړل هغه ولولئ او په اخبارونو کې هر ډول لغاتونه وي چې تاسو به یو وخت کې د بیلابیلو برخو لغاتونه زده کړی او همدارنګه د متن لوستلو یا ( ریډینګ ) برخې ته هم وده ورکړی.





http://t.me/opdacademy

(c) ketabton.com: The Digital Library





# Ahmadzia (Hadi)

# د لومړی برخې پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**